مورچل

اووم کال، دریمه گڼه، پرلپسې ۵۵ گڼه، جمادی الاول ۱۴۳۴ هـ مارچ ۲۰۱۳ م

افغانستان له ۲۰۱۴ کال وروسته !!

دخبرليکنې ژورنالستيک آرونه

دجلال اباد ښار دفدايي عملياتو تنظيموونکي :

فدايی بريدکې اسرائيلي، پولنډي او چکسلواکيايی روزونکي له منځه لاړل

داسلامي امارت جنګي تکتيک

خاطره

موقف بجای علماء دینی در هر کشور که باشد قابل ستایش است

دزلمو ټې دچاړې خرڅ !!

الهي لارښوونې

ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا يَطَئُونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَيْلًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهِ عَمَلٌ صَالِحٌ إِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ (120)

ژباړه: داله جهاد څخه نه پاتې کیدل په دې وجه دي چې دغه مجاهدینو ته به دجهاد په لاره کې تنده ،تکلیف یالوږه ونه رسیږي اونه به یوقدم په دغه لاره کې اخلي چې کفار پریشانه کوي او په غصه کوي اونه به دغه کفارو ته څه تاوان ورسوي اچې کفار قتل کړي یایې اسیران کړي ،مګر داچې لوی خدای دوئ ته دغه اعمال دصالحواعمالو په ډول ولیکي ،بې شکه الله تعالی نه ضایع کوي اجر دنیکي کونکو .

لنډ تفسیر :ددي آیت په شان نزول کې روایت شوی دی : چې کله دتبوک تشکیل وشو ،اوپیغمبر صلی علیه وسلم په خپله دمجاهدینوسره ولاړ اودادسختي ګرمۍ موسم حضرت ابوخیثمه چې په مدینه کې دیوه ښه باغ مالکوله تشکیل څخه دڅه عذرونو له امله پاتې شو ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دمدیني څخه رخصت شو نوابوخیثمه خپل باغ ته ولاړ اوهلته په یوه ګڼ اویخ سیوري کې په خپل پالنه باندي وغزیده ، دده میرمن هم ډیره حسینه وه ، دده په مخ کې ځکره اوپه شاوخوازمکه یې اوبه شیندلي زمکه یې ښه یخه کړي وه ، اوبیایې ورباندي بوریا ویړه کړه دخروو تازه وشکی یې دابوخیثمه په مخ کېکیښود یخي اوبه اونور خوندور خواړه یې ورته راوړل ، یوناڅاپه ابوخیثمه دې استراحت اوتعیش دلیدلو څخه وترهیده ، اودبونځا په څیر دده په وجود کې دغه خبره وڅرخیده ، له ځانه سره یې وویل : له دغسې ژوندون څخه چې زه په یخ سیوري کې ناست یم ، یخي اوبه څښم ، دیخ سیوري اودباغ دتاز میوو څخه خوند اخلم ، اودالله تعالی محبوب پیغمبر صلی الله علیه وسلم سخته ګرام تودي سیلۍ کې دتندې اولوږې په شدت کې په چول دښتو کندو اورغو کې غزاځي ، بس دې فکر اوخیال په راتلوسره یې سم دلاسه دسورۍ اوښه راوغوښته ، اوتوره یې په غاړه کړه ، اونیزه یې په لاس کې واخسته ، اودغا دپلونو په کرښه وخځیده ،دده اوښه ډیره ګړندۍ دباد په څیر تیزه تله ، بالاخره دغازیانو سپیڅلي لښ ته نږدي شو ، پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې دلیري څخه ولیده چې یوڅوک دشګو په غونډیو په تلوا خپله اوښه راخیژوي ، نوویې وفرمایل : کن ابوخیثمه : ابوخیثمه ې وي ، لږ وروسته چې ټولو مجاهدینو ولیده چې هماغه ابوخیثمه ووت ، اولوېدنه وړاندي اودغه آیتونه نازل شول .

مورچل

دمضامینو لړلیک

اووم کال دریمه ګڼه، پرلپسې 55 ګڼه، جمادي الاولی 1434 مارچ 2013م

ګڼه	مطلب	مخ
1	افغانستان له2014 کال وروسته.....	2
2	موقف بجای علماء دینی در هر کشور	4
3	دخبر لیکنې ژورنالستکي آرونه.....	5
4	داسلام غزوات او سرایا.....	9
5	دزلموتي دچاړې خرپ.....	15
6	دمورچل دار الافتاء.....	17
7	دجلال اباد ښار دافسرانو په روزنیز دفتر..	23
8	خاطره.....	26
9	پوهنتون مسیحي کابل.....	29
10	ذبیح الله مجاهد څوشېبې له خپل ولس...	34
11	تورې تور سپین کړل.....	36
12	ددیمکراسۍ په غېږ کې دښځو حقوق.....	37
13	اسلام دعالمانو اوشاهانو ترمنځ.....	38
14	اسامه بن زید ●	40
17	میثاق مرګ با امریکا.....	42
18	داسلامي امارت جنګي تکتیک.....	47
19	دشهیدمولوی مخلص ژوندته لنډه کتنه.	49
20	معیار حضرت عمر ● درانتخاب والیان	51
21	دامارت پیغامونه.....	53
22	منافقین افغانی را بشناسید و از راه آنها....	55
23	دعبرت کیسې.....	59
24	پکه دادې لابله سپکه.....	60
25	تسلیمي دراماتیک زندان بګرام.....	63
26	جنګي جنیاتونه.....	65
27	دمورچل وږمې.....	68
28	میاشتني خبرونه.....	75
29	انځوریز مورچل.....	
30	د تلفاتو میاشتنی جدول.....	128

میاشتنۍ، علمي، سیاسي او جهادي خپرونه

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خېل، ایوب صافی،
حسن زوی ، حکمت بغلانی،
زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي همکاران :

ارغـــوان ـــ صابر

ادرس اومکاتباتي پته :

پته : کابل ښار څلورمه حوزه
مجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

افغانستان له (۲۰۱۴) م کال وروسته!

دافغانستان پر اسلامي امارت دیرغل په لومړیو (۲۰۰۱)م کال او بیا راوروسته پړاوونو کې به دنورو امریکایي مشرانو په څېر بریتانویانو تر هرچامخکې په خپلو څرګندونو کې ګواښنې او لاپي شاپې کولې، چې ګوندې دطالبانو په مشرۍ اسلامي امارت نور خدای ج مکړه مات شوی او بیا به ددې جوګه نشي چې خپل تشکیلات ورغوي اودحکومت کولو وړتیا ومومي. هغه مهال دامریکایي خارجه وزیر (کولن پاول) نه به دبریتانیي خارجه وزیر (جکسټرا) ګاونډیو اولېرو پر تو هیوادونو ته منډې تړې او ګواښنې ددې لپاره ډیرې وي، چې پر اسلامي امارت دیرغل اشر (حشر) ته یې وهڅوی، دخونکار (بش) نه به د (تونې بلیر) ننګونې او تهدیدونه خورا زیات وو، خو دوخت تېریدواو دمجاهدینو فدایي ایثار جوته کړه چې داټولې ګواښنې یو کاذب روحیاتي فشار و، چې حقیقت کې دوئ دجهاداو مجاهدله سیورې ویریدل اوغوښتل یې چې لدې لارې څخه دجهاد له حرارته ځان وساتي.

چې دې وروستیو کې همدې انګریزانو دتېر پر خلاف دهغه افغانستان راتلونکی له ننګونو ډک او دطالبانو نه راضي کیدل یوستر ګواښ بللی، چې پرون یې دلویدیځو خونکارو عسکرو دشتون او ګڼ هیوادیزیرغل په تروړمیو کې همدا افغانستان یومستحکم هیواداو دغښتلې اردو لرونکی ځواکمن حکومت اومتقابلا طالبان له صحنې وتلي او ګوښه شوي بلل، دبریتانیا دفاع وزیر (فلیپ هامنډ) په خپلو څرګندولو کې ومنله، چې هیڅوک اټکل نه شي کولای، چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې دبریتانیا، امریکا او دناټو دنورو غړیو هېوادونو دپوځیانو له وتلو او ددوئ دجنګي ماموریت له پای ته رسېدلو وروسته به په افغانستان کې څه پېښ شي.

ددې نه وړاندې دبرېتانیا پارلمان د دفاعي چارو جرګګۍ ویلي، که چېرې دطالبانو سره دسولې په بهیر کې پرمختګ ونه شي افغانستان کورنۍ ج ګډې سره مخامخ کېدی شي.. دې جرګګۍ دافغانستان په اړه خپل یوه راپور کې ویلي، کله چې دبرېتانیا او نورو هېوادونو پوځیان له افغانستان څخه راوځي، د دې هېواد د راتلونکي خوندي کولو لپاره، د ګوډاګي حکومت په مشرۍ طالبانو سره دسولې دبهیر پیلولو ته اړتیا ده.

یرغلګر چې تل خپلو شومواغراضو پسې ګرځي او دچادحریت او مشروعو حقوقو پروانکوي، لومړی یې داسلامي امارت مجاهدین په اصطلاح ترهګر بلل، خو نن چې دشاګرځ په حال کې دي، ورسره دخبرواترو وړاندیزونه کوي اوس دادی طالبان نه ترهګر دي اونه چاته خطر!

په ډاډسره ویلی شو، چې دافغانستان راتلونکی انشاءالله دافغانانو په ګټه او دیوه خالص اسلامي نظام دتحکیم هیلې یې هغه واقعیتونه دي، چې له انحرافه به وژغول شي او دشهیدانو ارواوو ته به په یوه هیواد شموله حکومت تسکین وروبخښي، دلویدیځوالودا اټکولونه همداسې غلط دي لکه دیرغل په پیل کې چې غلط وو، اسلامي امارت ددې ژمنه کوي چې دهرې ګډوډۍ مخه به نیسې اودیوه داسې شرعي حکومت لپاره به هڅې کوي چې دالله ج دکتاب پر احکامو، د سنة الرسول ص پر لارښوونو اودسلف صالحینو پر نقش قدم ولاړوي، ددې په رڼا کې به ټولو قومونو اواقشارو ته خپل منل شوي حقوق ورکوي، داهغه هدف دی چې له امله یې روان جهاد پیل شوی او تر فتحې پورې به دابهېر روان وي!

انشاءالله تعالی

ذبیح الله مجاهد

موقف بجای علماء دیني در هر کشور که باشد قابل ستایش است

چندی قبل اداره کابل وشرکای جنایتکار شان سعی به خرچ دادند که درمقابل روند سریع جهادی در کشور که سبب نکبت و به زانوزدن چهلونو کشور ائتلاف صلیبی در افغانستان شده، دسیسه ء را به کار اندازند که صبغه ء دینی داشته باشد و در به راه اندازی این دسیسه از وجاهت، موقف و نفوذ علماء دینی استفاده نادرست نمایند، تا درمقابل جهاد کنونی در کشور فتوا یک تعداد علماء دینی بعضی از کشورها را به شمول شورای به اصطلاح علماء سوء اداره کابل به دست آرند وبعدا آن فتوا را سناریو جدید تبلیغات خودعلیه مجاهدین قرار دهند ونیز از لباس سفید علماء کرام دینی درپاک نمودن رویهای سیاه ایشان کاربورده شود، در عین زمان امارت اسلامی افغانستان هم ازتمام علماء دینی جهان تقاضا نمود که متوجه دسیسه های شیطای دشمنان قسم خورده اسلام باشندوفریب آنها را نه خورندودر حین شکست مفتضحانه اشغالگران در افغانستان مورد استفاده سوء آنها قرار نه گیرند، خوشبختانه که هم علماء دینی در داخل کشور وهم علماء دینی در خارج از کشور متوجه دسیسه دشمن بودند و به دعوت آنها پاسخ منفی دادندو سیلی کارا را به روی فروخته شده های اداره کابل وباداران خارجی آنهاوارد نمودند، تقریباسه صد عالم دین در حالت وشرائط خطرناک امنیتی باهم جمع شدندوقطع نامه ء را صادر نمودند که جهاد افغانستان جهاد مقدس است وبخاطر اعلاء کلمة الله وعلیه اشغالگران ودشمنان سرسخت وتاریخی اسلام ادامه دارد، کسانی که باجهاد کنونی مخالفت می نمایند هر کس که باشدوبه هر کشور که ارتباط داشته باشد خیانت نابخشودنی را علیه اسلام انجام می دهد، همچنان علماء کشورپاکستان هم اکثریت آنها از شرکت در چنین عوت های مکارانه ابا ورزیدندو شماری هم که باشورای به اصطلاح علماء اداره کابل ملاقات داشتندبه صراحت گفتند که آنها علیه مجاهدین هرگز فتوای را صادر نه خواهد کردند!!! به این ترتیب همه علماء حقانی در جهان اسلام مسئولیت دینی خویش را درمسئله افغانستان درک کردندو به خواست

امارت اسلامی افغانستان لبیک گفتند ، این موقف واقعاموقف شرعی ودینی میباشد و بااحکام دین مبین اسلام مطابقت کلی دارد ، امارت اسلامی هم از موقف گیری علماء دینی درقبال دسیسه های دشمن قدردانی می نماید و این حرکت را نشانهء جرئت ومردانگی علماء راستین دینی میداند ، همچنان این پیام علماء کرام به روی اداره کابل وباداران خارجی آنها سیلی محکمی وارد نمود که آنها هرگز نه میتوانند از موقف دینی علماء کرام ، مردم را فریب دهند وهدف شوم خود را به دست آرند ، به علماء دینی در هر کشور که باشد خداوند متعال به آنها علم ، درایت ، بصیرت وفراست عطانموده است والحمدلله آنها همه درک می نمایند که اشغال یک کشور اسلامی از زاویه شریعت غرای محمدی صلی الله علیه وسلم چه حکم دارد ؟ عالمان دین میدانند که در مملکت اسلامی به ازبین بوردن نظام شرعی وعوض آن نظام مفسد غرب مانند را تحمیل نمودن شرعا چه گفته میشود؟ عالمان آگاهی دارند که درمدت یازده سال به گونهء پی هم از زندان گوانتانامو تابگرام و پلچرخی به هزاران عالم دین و حافظان قرآن کریم را عقب پنجره های زندان انداختن ، شکنجه نمودن ، برهنه نمودن وبه شهادت رسانیدن شرعا باید چگونه توجه شود ؟ علماء دینی درک می نمایند که درمدت یازده سال علیه مردم عام ومسلمان از راکیت های کروز وتر موپریک گرفته تااستعمال فاسفورس سفید وتوسط آن مردم بی دفاع ، کهن سالان ، خانمان ، اطفال و رهبران دینی را هدف قرار دادن وباقساوت آنها را به شهادت رسانیدن بایدروی شریعت اسلامی چه گونه تعبیر گردد ؟ دانشمندان اسلامی به چشم خود می بینند که در افغانستان مساجد ، مدارس دینی ، خانقه ها ،ومراکز دینی را منهدم نمودن وبمباردمان کردن و آن را به خاک یک سان نمودن وهمچنان توهین پی هم مقدسات اسلامی را باید شریعت و علماء دینی چه بنامند وچه واکنش به آن نشان دهند ؟ روی هم رفته اتهامات مزدوران کابل ونیز تبلیغات بعض ازچینل های استخباراتی (رسانه های وابسته به اشغالگران) که به هدف مقابله بادین مبین اسلام از سفارتخانه امریکا در کابل پول به دست می آرند قابل نکوهیش است که میخواهند وظیفه استخباراتی خویش را به پیش بورده و اقدامات شرعی ومعقول علماء دینی را وابسته به ارگانهای استخباراتی وانمود کنند، نیز تبصره های نادرست و بیگانه پرورانه ، یک تعدا از به اصطلاح صاحب نظران سیاسی را هم باید جدا تقبیح کرد که میخواهند هرچیز باید مطابق میل وخواست امریکا وسائر اشغالگرا به انجام رسد و اگرچنین نه شود باید اقدامات مذکور را به مسائل سیاسی وحتی استخباراتی پیوند داد ، درحالی که همه جهت های مذکور خود مستقیما پرورده ومحصول دستگاه های منحوس استخباراتی اند وبخاطر همان دستگاه های سیاه ، روی خود را سیاه می نمایند ومتأسفانه که برمزدوری خود افتخار هم دارند !!! اکنون باید ملت مسلمان افغان هوشیار وبا درک باشند وفریب جناح های مزدور را نخورند ، یگانه راه نجات ملل مسلمان خصوصا افغانهای زجردیده همان ادامه جهاد مقدس و جان فشانی های بی دریغ مجاهدین است ، اگر علماء دینی هر کشور روی مکلفیت های دینی خود از مقاومت دلیرانه و جهاد مقدس افغانها حمایت اخلاقی می نمایند، وظیفه آنها شمرده میشود ، ما به یاد داریم که درمدت جهادمردم افغانستان علیه اتحادشوروی سابق علماء تمام عالم اسلام از داعیه وجهاد ما حمایت کرده بودند وآن زمان کسی هم این موقف گیری عالمان دین را وابسته به کدام دستگاه سیاه نه میدانست !!! ولی اکنون که جهت جهاد تغیر کرده واستکبار غربی به دلیل همان اشغال وقتل مسلمین تحت فشار وتهدید قرار دارد چرا باید حساسیت نشان داد؟ و بخاطر منافع غربی هاچرخ خورد ؟ این حالت خود واضح می سازد کسانی که مخالفت از روند جهادی کنونی دارند همان دست پرورده های غرب اند ویا کاملا تحت تأثیر تبلیغات سوء غرب قرار گرفته اند

❁ ❁ ❁

دخبرليکنې ژورنالستيک آرونه

شکور شفق

لومړی برخه

دژورنالیزم تهوریک بنوونځي چې دانکشاف پرلوړوده کوي اوپښتني ټولنه يې هم دې وروستيو کې تر خپلې شعاع لاندې راوستې ،يووخت د اداب دیوه ژانر په حیث پیژندل کیده او پر خپلواکۍ يې چا باور نه درلود ،نوځکه به يوه چاته هم دادیب او هم ژورنالست خطاب کیدای شو ،خو دې وروستيو کلونو کې ژورنالیزم له ادبیاتو خپله لاره بیله کړې او دخپلې خپلواکۍ ودې ځغاسته کوي ،ادبیات دخپلو فنونو او تخلیقي یا تولیدي عاطفي پنځونو په تخیلاتو کې ځانته هڅه کوي او ژورنالیزم بیا دخپل اطلاعاتي او خبري یا خبریالۍ چاپیریال په ابعادو کې ګرندې ګامونه وړي.

د(خبر او خبریالۍ)دکتاب سریزه لیکونکې (محمد یاسر شریفي) په باور ژورنالیزم په افغاني ټولنه نړدې یوه نیمه پیړۍ مخینه یا ماضي لري ،خو د ځینو ادب پوهانو په باور یوازې درې لسیزې کیږې چې ژورنالیزم افغاني ټولنې کې عملي ریښې غځولې او له ښه بخته چې اوس د عملي ژورنالیزم لمن په پښتو ژبه کې له نسبتا ډیرو مرغلرو ډکه ده ،که څه هم دافغاني ټولنې عملي ژورنالیزم دنورو همسایه ژبو لکه درې ،اردو او عربی سره هیڅکله نشي پرتله کیدای، ځکه هلته ژورنالیزم کې ښه ډیر آثار او کتابونه وراثت کې ژورنالستانو ته پاتې دي خو د پښتو ژورنالیزم عمر تنکی دی او لا دځوانۍ مرحله کې وده کوي.

ژونالیزم یا خبریالي دخپل سپیڅلتوب او محیطي یا ټولنیز حیثیت له کبله پدې ارزې چې تر څیړنې لاندې ونیول شي او بیا د دې جامع فن دیوه خورا مهم ژانر په توګه (خبر)لیکنه یا خبریالي شنل هغه اړتیا ده چې چاره تري نشته او دیوه معیاري خبر څخه دغیر معیاري خبر تفکیک او پدې (سکالو)دآرونو او اصولو له مخې څه لیکل یا ویل دهر چا تنده او دوخت یوه اړتیا ده چې دزماني تنګنا سربیره به د دې سمندر ګي تل ته لږسرورښکاره کړواوګوندې څه مرغلرې به دې راوباسو !

خوکله چې مې دپښتو دیوه معیاري خبر پیژندنې لپاره پیځې رابډوهلې او پردې دځه لیکلو تکل مې وکړ ،دنړیوالې انټرنیټي ځالې ځاندره مې هم خلاصه کړه او هم مې دپښتو خبرلیکنې افغاني آثارو پسې څه هڅه وکړه ،دداسې یونیم اثرنه مې پکې څه زیات ونه مندل چې دیوه جوت او پاخه ماخذ په توګه تري ګټه واخلم ،البته په خارجي ژبو کې دخبرلیکنې دژورنالستیکو اصولو اثار ډیر او دغه ژبې ورځخه بډایه وې، مګر پښتو ژبه یوازې په اړول شویو یا ژباړل شویو ژورنالستي لس دوولسو کتابونو سمسور وه او یو نیم اثرهم پکې لیکل شوی و ،خو دنوروژبو په مقایسه دهیڅ برابرو ،نو مجبورا مې څه له دې ژباړل شویو اثارو او څه له کومو خارجي ژبو استفاده وکړه او یوځه مې پښتو کې دخبر لیکنې آرونه لوستونکیو ته راخلاصه کړل.

یو بله ستونزه دې کتابونو کې داهم وه چې دتولید یا تخلیق نښې پکې ډیرې کمې وي ،زیاتې يې تقلیدي اړخونه درلودل یوه لیکوال به چې کومه سکالو ځنګه شنلې وه هغه بل به هماغسې له غټ توپیر پرته رانغښتې وه یوازې ژورنالستیک تقلید به يې کړی و ،کوم لومړي فنان چې دکوم اصل لپاره کوم قالب یا چوکاټ جوړ کړی و ،دې دوهم ژورنالست هم په هماغه چوکاټ یا قالب کې مواد وراچول ،پدې معنی چې کوم چوکاټ چې دخبر لپاره خارجي پوهانو جوړ کړی وهمغه پښتو خبریالۍ کې هم کارول شوی او کوم ډول نوښت ورسره ملګری شوی نه و ،خو بیا هم دافغاني ژورنالستانو دې کورودان وي چې دژباړې په ښه يې

ددې فن تشه څه ډکه کړه ،دایې ستره کارنامه څکه بولوچې تر اوسه پورې خو داهم نه وو ،په ګوتو دې برکت شي چې دومره څه خو یې وکړل چې دنور هغو لپاره یې لاره خلاصه کړه او ددې جرأت یې ورکړچې څه پنځونکې لیکنې وکړي او دا فن بدایه کړي.

د ژورنالیزم پیښلیک

اسلام دیوه کامل دین په حیث صحافت یا ژورنالیزم یې بحثه ندی پریښی او نه یې له نظره غورځولی ،صحافت یا ژورنالیزم داسلامي تولنې داصلاح کولو اوجوړولو ددندې سرپیره دیوې بلې لارې هم دتولنې ضرورت پوره کوي اوهغه داسلامي حکومت داعملي ضرورت دی چې داسلامي هیواد اوسیدونکي دپیښو او راتلونکي نه خبروي.

ترڅو هغوئ دقرآنکریم دحکم سره سم خپلو (اولی الامر)ته مشورې ورکړي ،خوکه څوک دپیښې له پیښیدونه نوې خبر، هغه به څنګه چاته مشوره ورکړي ،اسلام خو هسې هم مشوره اخستل اوکول لازې بللې دي د(ال عمران ۱۵۹آیت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته امر شوی ((وشاورهم فی الامر))ددین په کار کې دهغوئ هم مشوره اخله.داسې نور ډیر نصوص ددې شهادت ورکوي چې صحافت یو دیني ضرورت هم دی اویو مسلمان ژورنالست باید دامانتداری ،صداقت او رښتنولی په معیارونو پوره خبریالي وکړي او ولسونه له حقایقونه خبرکړي . یومشهور ژونالست محمد آصف شینواری په خپل یوه آثرکې چې خبریالانو ته یې دتدریسي چارولپاره دلیکچرنوټ په بڼه ترتیب کړی (دژورنالیزم بنسټونه یا اساسات)نومیږي، دژورنالیزم پیښلیک یا تاریخي قدامت غربي نړۍ،دیادښتونو له مخې تر مخکینې یادشوي تاریخ نه وړاندې بولې اوهغه داسې لیکې چې:

ژورنالیزم د لومړي ځل لپاره له لمرۍ پېړۍ په راوروسته وخت کې د روم په امپراتورۍ کې سر رااوچت کړ. دې امپراتورۍ یوه ورځپاڼه د اکته دیورنه\ "(Acta Diurna)په نامه چاپوله چې Gaius Iulius Caesar په لاس لیکله . هم مهال یو بله اوونیزه خپرونه هم پیل شوه چې کومښتاریوس رپرون نوؤه روم\ " نومېده. د اوسنۍ مجلې په څېر هغه هم پر سیاسي، ټولنیزو او سوداګریزو موضوعاتو راڅرخېده. د پام وړ دا ده چې نوموړي خپرونه د دروسوو لیکوالو له خوا په لاس لیکل کېده.له دې راوروسته په منځنیو پېړیو کې، مخکې له دې چې د چاپ ماشینونه جوړ شي، سوداګریز مالومات به هم پر وړو وړو پانو په لاس لیکل کېدل. دغه مالومات به له یوه ځایه به بل ځای ته، په ځانګړې توګه له یوه بندره بل ته لیږدېدل چې د "اؤیسي "(Avvisi)په نامه یادېدل چې مانا یې خبرونه ده. د دې مالوماتو موخه یوازې او یوازې د سوداګریزو لارو او بازارونو څېړل وه چې یوازې به د سوداګرو له خوا لوستل کیدل

د نننې یا نوې ژورنالیزم پیل:

یوهان کرولوس(Johann Carolus) په شپاړسمه پېړۍ کې د شتراسبورګ په ښار کې ژوند کاوه. ده د ورځپاڼې د چاپ دنده پر مخ وړه. نوموړي هغه مهال د اروپا په لویو لویو ښارونو کې لیکوال وګومارل چې په هره اوونۍ کې نوي خبرونه راټول او ده ته واستوي. کرولوس به بیا دغه خبرونه په خپل لاس څو ځلي لیکل او هغو کسانو ته به یې لېږل چې سوداګرول او غوښتل یې چې د اروپا پر سوداګریز اکر بکر خبر شي.ده په کال ۱۶۰۵ کې له یوه بل کس چې هغه هم په شتراسبورګ کې ژوند کاوه، دري د چاپ ماشینونه وپېرل او په خپل کور کې یې ځای پر ځای کړل. وروسته له دې به کرولوس راټول شوي خبرونه په ماشینونو دومره ډېر چاپول چې د وخت په پرتله له اوسنیو پانو څخه کم نه ګڼل کېږي. په ۱۶۳۱ کال کې یو بل فرانسي لیکوال \ "تېئوفغسته غونو\ "(Théophraste Renaudot) یو ګام لا نور هم مخ ته ولاړ او خپله لمرۍ ورځپاڼه \ "له ګځېت\ " یې په اوسني او نوي ډول چاپ کړه. ده وکړای شول چې له دې سره

سم د نوي يا هم مودرن ژورنالیزم بنسټ کېږدي. فغسته غونو، نه یوازي ورځپاڼي ته داسي سکوی او شکل ورکړ لکه په اوسمهال یې چې وینو، بلکي په ژورنالېزم کي یې نوي ژانرونه یا ځېلونه هم راپیدا کړل، لکه تبصره او راپور یا رپوټ چې تر نن ورځي لیکل کېږي.

د اتلسمي پېړۍ له پیله سره سم په امریکا کي هم نوي ورځپاڼي منځته راغلي چې یوازي به سوداګرو، حکومتي کارمنو، او همدارنګه شتمنو خلکو اخستلای شول. خو د اتلسمي پېړۍ په پای او د نولسمي پېړۍ په پیل کي کله چې د چاپ تخنیک ډېر پرمختګ وکړ، نو د چاپي خپرونو بیه هم راکښته شوه. دا د دي سبب شوه چې هر څوک وکولای شي چې یوه ورځپاڼه وپېري. دا چې د ورځپاڼي چاپ، پېرل او پېرودل ډېر شول، نو ډېرو کسانو هڅه وکړه چې په دغه ځانګه کي کار پیدا کړي اوله دي لاري خپل ورځنی لګښت پوره کړي. له دي سره سم، د ژورنالېزم ځانګه یا مسلک هم وزیږېد. د یادونې وړ ده چې په دغه وخت کي به له خبرو نو او نورو څېړنیزو لیکنو سره د هر خبریال خپل نظر هم ګډ لیکل شوی وو. دغه ګډ لیکل تر ډېره د دي لامل وګرځېد چې لوستونکی به نه پوهېده چې آیا دا د خبریال شخصي نظر دی، که حقیقت.

کله چې په کال ۱۸۳۵ په نیویارک ښار کي \"نیویارک هرلډ\" (New York Harald) ورځپاڼه جوړه شوه، نو لیکوالو یې ډېر کوښښ وکړ چې ولس ته په بې پري توګه خبرونه وړاندي کړي. د دي ورځپاڼي چاپونکیو به هڅه کوله چې د یوې پېښې په باره کي پوره څېړنه وکړي چې د خبر اصل او رښتیا وپېژني او په همغه آره بڼه یې خلکو ته وړاندي کړي. مانا دا چې بې له دي چې خپل یا د بل نظر ورسره ولیکي. د همدغو هاندو هڅو پایله دا شوه چې ژورنالېزم د مالوماتي ځانګي یا مسلک په توګه وپېژندل شو.

په همدي ډول په کال ۱۹۰۰ د، هواس (Havas) خبري آژانس له جوړېدا سره سم، په دغه ډول خبر لیکنګ چې ګواکي شخصي نظر به نه پکي ځای ورکول کېږي، ډېر ټینګار کېده. او د وخت په تېرېدا سره دغه کړنلاره ورو-ورو ډېره اغېزمنه څرګنده شوه.

د خبر لیکنې تر اصولي یا آریزې څېړنې مخکې د صحافت او ژورنالیزم په چم کې دځه وخت لپاره تم کیږو او ددې په معنی او لنډ ویش څه رنا اچوو.

د (ژورنالیزم مطالعه) د کتاب مؤلف (ایس ایم شاهد) لیکې چې ژورنالیزم څه شئ دي؟ (What is Journalism)

دنومورې لیکوال په باور صحافت د عربي ژبې له (صحف) کلمې نه اخستل شوی چې لغوي معنی یې د کتاب او رسالي مخونه دي، په انګریزي کې ددې متبادله کلمه (Journallism) ده، چې له (Journal) نه ماخوذ دی، د ورځني حساب یا ورځني یادښت په معنی دی.

په پخوانو زمانو کې د (صحف) اصطلاح د صحیفې او دا د صحیفې اصطلاح د سپیڅلو لیکنو ته ځانګړې شوې وه او د سپیڅلو کتابونو یا د آسماني صحیفو قلمي تیارونکی او خوش نویس به (صحافي) بلل کیده، ورو، ورو لوړې ادبي، علمي او فلسفیانه لیکنې د صحیفو په ډله کې راغلې، او د چاپ له منځته راتلو وروسته چې ژورنالیزم دود شو او د ورځپاڼو او جریدو پېرو، نو صحافت د ورځپاڼو او جریدو د برابرولو لپاره استعمال شو، وروسته د مطبوعاتو ټولې اړونده چارې صحافت وبلل شوې، د خبرونو برابرول او رسول، ورځپاڼې او جریدې د راډیو او تلویزیون په ګډون



دژورنالیزم بیلابیلې برخې وګڼل شوي ،چې په ټنې اصطلاح کې دژورنالیزم اصطلاح په ټولوهغواجزاوو دلالت کوي چې له هغو څخه خبرونه اوخبري تبصرې عامو خلکوته رسیږي.
خو داردوژبې د((فن صحافت)) کتاب لیکوال (ډاکتر عبدالسلام خورشید)په خپل دې کتاب کې لیکي چې: د(صحافت)کلمه له صحیفې نه اخستل شوي، چې لغوي معنی یې کتاب یا رساله ده، دصحیفې نه مراد هغه چاپې مواد دي چې له ټاکلې ځنډ وروسته خپریږي.
یو بل ژورنالسیت (ایرک هوجنس) Eric Hodyins)لیکې چې ژورنالیزم په دیانتداری او هوښیاری دیوه ځای نه بل ځای ته دمعلوماتو درسولوهغه اندازدی، چې پکښې ربښتینولي برلاسي وي.....لدې بحث دانتیجه اخلوچې دنویو او غیر معمولي حوادثوترتیب او وړاندې کول دژورنالیزم په ډله کې راځي ،که دا دورځپانې په بڼه وي یا دراډیو او تلویزیون په بڼه وي خو چې داطلاعاتو یعنې خبر او دخبردبرابرولو پر بنسټ وي.

دژورنالیزم یا خبریالۍ ډولونه :

۱-سنجول شوی یا دځانګړوخلکودخوښې ژورنالیزم:(Qua lityjournalism)
۲-دعامو خلکو دخوښې یا ټولنلی ژورنالیزم:(Popular joumalism)
۳-زیړ یا غیرمعیاري ژورنالیزم:(Vellow journalism)

۱-سنجول شوی یا دځانګړوخلکودخوښې ژورنالیزم

(Qua lityjournalism):

هغه ورځپانې چې دخپلو موادو له مخې یې یوازې سنجیده ډله لولي، پدې لیکل شوي قسم کې راځي ،چې پداسې ورځپانو او رسالوکې یې بنسټه خبرونه ځای نلري ، ددې ورځپانو اورسالو خبرونه ،سرلیکنې او لیکنې سنجول شوي وي او معیاري وي ،چې اصل موضوع پکې سیاسي حالات او ټولنیز مسایل وي ،دغسې ورځپانې دلوړعلمي ذوق او لوړو زده کړولرونکي طبقه خوښوي ،ددې تېراژ زیات نوي مګردلوړ معیار له املهډیر ارزښتناک وي.

۲-دعامو خلکو دخوښې یا ټولنلی ژورنالیزم

(Popular joumalism):

دغسې ورځپانې نسبتا عام یا نیمه لوستي طبقه لولي ،پدغسې ورځپانوکې ښه موضوعات دتفریحي هغې غوندې وي ،تصویرونه اوسرلیکونه یې روښانه وي ،خبرونه او فیچرهم پکې راوړل کیږي ، ددې ورځپانو خپرول ډیر زیات وي ځکه عام خلک ورته خپل اشتهارات هم راوړي

۳- زیړیا غیر معیاري ژورنالیزم :

(Vellow journalism)

دغسې ورځپانې دتیتې کچې ذوق لرونکي لولي اوهمداسې ناسنجول شوي خلک یې خوښوي ،په ځانګړې ډول پکې دوه موضوعات روښانه کیږي:جرم او جنس ،پدې اړه خبرونه ډیرلویوي اوپه چیغو سره یې خپروي ،له کومې افواه یا پر بې بنسټه موضوع خبرجوړوي ،یا دیوچا په رول خاورې وراړوي. لنډه داچې دې شمیره ناسنجول شویو اوغیرمعیاري خبرونوموضوع جوړیږي ،ددغوورځپانودخپرولوشمیرهم ځانګړې وي.
دژورنالیزم له اړوندو ډولونو څخه ورځپانې ،اوونیزې ،ادبي مجلې،ډایجسټ(نیمه ادبي ،معلوماتي نیمه ډرامایي یا تفریحي وي)مسلکي ورځپانې ،راډیو ،تلویزیون اونورې بریښنایي وسیلې په اقساموکې راځي چې همدا یې دابلاغ او خبرونې وسیلې دي.

د اسلام غزوات اوسرايا

دوولسمه برخه

مکي ته خبر تلل !

ابو ظهير

حافظ ابن کثير (ﷺ) دعلامه ابن اسحاق (ﷺ) په روايت ليکلي : اول من قدم مکة بمصاحب قريش الحيسمان بن عبد الله الخزاعي فقالوا له ماوراءک ؟

دقريشو له ډلې ترټولو لومړی مکي ته "حيسمان بن عبد الله خزاعي" ورسيد ، خلکو له هغه وپوښتل څه وشول؟

هغه ورته وويلي : "قتل عتبه بن ربيعة وشيبة بن ربيعة ، ابوالحکم بن هشام ، وأمية بن خلف و زمعة الأسود ونبيه ومنبه ابنا الحجاج ، وأبوالبختری بن هشام

عتبه بن ربيعه ، شيبه بن ربيعه ، اوأبو الحکم بن هشام (يعني ابوجهل) اميه بن خلف ، زمعة بن اسود ، دحجاج څامن نبيه اومنبه ووژل شول!

دامیه خوی "صفوان بن أمية" وويلي : "والله لن يعقل هذا ، فسلوه عني " . ماته داسې روغ نه ښکاري ، ترې امتحاناً دا پوښتنه وکړئ! "صفوان بن أمية چېرې دی ؟"

هغه (حيسمان) وويلي : هوذاک جالسأفي الحجر ، قدوالله رأيت اباه وأخاه حين قتلا .

هغه (صفوان بن أميه) د حجر اسود سره ناست دی په الله سوګند په دې ستر ګومې دهغه پلار اوورور مړه ليدلي (ابن کثير ، حافظ ، البدايه والنهايه ، مخ ۲۳۱ ، توک دربيم)

علامه ابن اسحاق (ﷺ) له ابو رافع نه دابن عباس (ﷺ) دا روايت نقل کړی : د(بدر جنګ) وراندې دعباس (ﷺ) کور ته اسلام ننوتی و ، خوله ډاره يې پټ کړی و ، له کله نه چې قريش بدر ته (دجنګ) لپاره لاړ وو ، مونږ دخبرونو راتلو ته ډېر ليوال وو ، هغه وچې ترټولو لومړی "حيسمان خزاعي" راغی ، هغه دقريشو دشکست خورو خبر راوړ ، مونږ په زړونو کې درسول الله (ﷺ) په برې ډېر خوشال شوو ، دغه مهال مونږ د زمزم حجري سيوري ته ټول وو ، "أم فضل" هم له مونږ سره وه ، ابولهب هم هلته راغی او کېناست ، لږ څنډ نه و تېر چې مخامخ درسول الله (ﷺ) دتره ځوی اورضاعي ورور " ابوسفيان بن حارث بن عبد المطلب" راځر ګند شو چاوويلي : هغه دی ابوسفيان بن حارث بن عبد المطلب (له بدر څخه) راغی .

ابولهب هغه ته ورناري کړ : "هلم الی فعندک لعمری الخبر !"

هله ! ژر ، ژر راځه تاسره مې ضروري کار دی

يا ابن أخي أخبرني كيف كان امر الناس ؟

ورا ته! ووايه خلکو ته څه ورپېښ وشول

هغه (ابوسفيان بن حارث) ووېلې :والله ماهو الاأن لقينا القوم فنمحناهم أكتافنا ،يضعون السلاح مناحيث شاؤوا يقتلوننا كيف شاؤوا، ويأسرونا كيف شاؤوا ، وأيم الله مع ذلک مالُمتُ الناس لقينا رجالاً بيضاً على خيل بُلقٍ بين السماء والأرض ، والله ماتليقُ شيئاً ولايقوم لها شيء (ابن كثير ،حافظ ،البدايه والنهايه، مخ ۲۲۳ توک درپيم)

په خدای سو ګند بل څه نه وپېښ مګر داچې مونږ له يوه داسي قوم سره مخ وو ، چې هغوئ ته مونږ خپلې اوګې سپارلې وې ، هغوئ به چې هر څنګه غوښتل په مونږ يې هغسې خپلې وسلې چلولې، څنګ يې غوښتل مونږ يې هغسې وژلو او څه قسم يې غوښتل هغسې يې نيوو ، له دې وجې زه څوک ملامت اوپره هم نه بولم ! په خدای سو ګند سپين ،سپين سړي پر ابلقو اسونو سپاره دزمکې او اسمان ترمنځ زمونږ په مقابله کې ولاړول ، په خدای سو ګند هغوئ يوځېز هم نه پرېښود اونه هغوئ ته څوک ټېنګيدل.

ابورافع وايي ما ووېلې : "والله تلک الملائكة " په خدای سو ګند دافرښتې دي!

په دې ابولهب دومره غوسه شو چې هغه زه په درنه څېيره ووهلم داچې زه ترې کمزوری وم ، راپورته شوپه زمکه يې څملولم ، په سينه راته کيناست اوپه وهلو مې لګيا شو . "ام افضل " سملاسي دحجرې له ستنو يوه پور ته کړه ابولهب يې په سر دومره قوي وواهه چې له امله يې تېپې شو او ور ته يې وويلې: دده آقا(عباس) نشته تاته کمزوری ښکاره شو. يوه اوونۍ نه وه تيره چې ابولهب طاعون ونيو ، اومړ شو .لاش يې دومره بدبويه وچې هيڅوک نيږدې نه ور تلل ، ددرې ورځو وروسته ځامنو يې ور ته دشرم پټولو لپاره يوه کنده وکندله يې په کوتکو اولږ ګيو هغې ته ورټېل واهه !

اُم المؤمنين عائشه (رضي الله عنها) به چې کله په دغه ځای (چېرې ابولهب مړ وه) تېريده تن اومخ يې په پرونې کې بنه پټ کړيابه تله !

څنګ چې رسول الله (ﷺ) په ديار ثمود تېريد ، مخ مبارک يې پټ کړ اوسورلۍ ته يې چابک ور کړ ، په دې کې اشاره وه دېته چې هر کله دعذاب له ځايونو تيريدئ ،داسې کوئ دمؤمنانو مور (رضي الله عنها)په دې سنت عمل کاو (ابن كثير ، حافظ، البدايه والنهايه ،مخ ۲۲۳ توک درپيم)

قريشو ته چې دخپلو خپلوانو درسوا مرګ حال پوره معلوم شو ،په ژړا او انګولاسر شول ، تربوې مياشتې انګولل اوژړل له يوې مياشتې وروسته يې سردارانو اعلان وکړ چې:

انګولل اوژړل نور بند کړئ ! که محمد (ﷺ) اودهغه ملګري خبر شول ، هغوئ به دېر زيات خوشال شي..

اونه به څوک پخپل سر دبنديانو په سر فديه ورکوي،ولې په دې سره به محمد (ﷺ)لوړه فديه وتاکي!

خوددې اعلان سربيره "مطلب بن أبي وداعه بن ضبيره سهمي" له قريشو نه په پته څلورزره درهم دمکې نه مديني ته ويورل اودخپل پلار "ابي وداعه بن ضبيره السهمي" فديه يې ادا کړه . له ځان سره يې مکي ته راوست . ابن كثير وايي: "هذا أول أسير فدى ،ثم بعثت قريش في فداء أسراهم ،فقدم مكرز بن حفص بن الأحنف في فداء سهيل بن عمرو"

دالومړی بندي وچې په فديه پربښودل شو ، وروسته قريشو هم دخپلو بنديانو دخلاصون په موخه خلک وليږل او "مكرز بن حفص بن الأخيف" د"سهيل بن عمرو" فديې ادا کولو ته لاړ.

سهيل بن عمرو هغه مهال په عربو کې يومشهور ،ذهين او فصيح ژبې وبناوال و ، په غونډو اودخلکو دګڼې ګوڼې په ځايونو کې په رسول الله (ﷺ) پورې زياتې سپکې سپورې وېلې ، عمر (رضي الله عنه)

ورانديز وکړ : يارسول الله ! "دعنی أنزع ثنيته سهيل بن عمرو "ماته اجازه وکړه چې دسهيل دخولې دوه لانديني غاښونه ترې وباسم! څوپه راتلونکې کې ستاشان کې دبدي ويناکولو جسارت ونکړي . رسول الله(ﷺ) ورته وفرمايل :داکار مه کوه، ممکن الله (ﷻ) تاته دهغه په وجه کومه يوه خوښي نصيب کړي.

وروسته دحديبي صلحه دهمدې "سهيل بن عمرو" د کوښښونو محصول شوه ، چې الله (ﷻ) هغه دمسلمانانو لپاره د "فتح مبين" په شاندار لقب يادە کړي اوبيا دمکې دفتح په ورځ مسلمان شو ، دابن هشام په قول : رسول الله (ﷺ) حضرت عمر (رضی الله عنه) ته وويل:

"لاامثل به فيمثل الله بي و ان کنت نبيا" زه څوک مثله نه کوم، هسې نه چې خدای (ﷻ) ما مثله کړي اګر که زه نبي يم (البدايه والنهايه، مخ ۳۲۳ ټوک دريم)

په بنديانو کې "عمرو بن أبي سفيان صخر بن حرب هم و . ابو سفيان ته ووېل شول : ته دخپل خوی "عمرو" خلاصولو لپاره فديه راوړه! ابوسفيان يې په خواب کې وويل: دا څنګه ممکن ده چې سړي دې هم خماوژل شوي وي اوفديه به هم زه ور کوم! يو خوی مې("حنظله ")قتل شو اود دويم "عمرو" فديه ور کړم! هيڅکله به يې ورنکړم!هر څومره چې محمد(ﷺ)غواړي بندي دي کړي!

څه وخت پس دانصارو "سعد بن نعمان انصاري" دعمري لپاره مکې ته لاړ ،هلته هغه ابوسفيان دخپل خوی په عوض ونيو، دانصارو په غوښتنه رسول الله (ﷺ) "عمرو" ابوسفيان ته وسپاره او "سعد" يې ازاد کړو ، په فيديانو کې درسول الله (ﷺ) زوم "ابو العاص بن ربيع" هم و ، دهغه په نکاح کې درسول الله (ﷺ) لور زينب(رضی الله عنها)وه . "ابو العاص" شتمن ، امانت دار اودمکې په مشهورو سوداګرو کې شمار و. دبعثت وروسته د "خديجة الکبری (رضی الله عنها) په کډون درسول الله (ﷺ) څلورواړو لونو ايمان راوړو خو ابو العاص په شرک او کفر ولاړپاته شو.

قريشو څوواره پر ابو العاص کوښښ وکړ ، چې هغه دې هم دابو لهب ځامنو په څېر دمحمد (ﷺ) لور ته طلاق ور کړي او دقريشو په بله هره کورنۍ کې چې غواړي . دوئ به ور ته هلته نکاح وکړي .

خو ابو العاص انکار وکړ هغه وويل : دزينب پشان ميرمني مقابل کې د قريشو څه :ددنيا هيڅ بله ميرمن به غوره نکړم !

څه مهال چې قريش بدر ته روان شول. ابوالعاص هم له هغوئ سره ملګری و .هلته د نورو بنديانو ترڅنګ دی هم دمسلمانانو لاسوته ورغلو ،دمکې نه چې هر چا دخپلو ، خپلو بنديانو خلاصولو لپاره فديې استولې ، زينب (رضی الله عنها) دخپل خاوند(ابو العاص) فديه کې خپله هغه غاړه کې هم واستوله کومه چې ور ته دواده پروخت خپلې مور (خديجه الکبری رضی الله عنها) دډالۍ په توګه ور کړې وه ، رسول الله (ﷺ) دهغې(غاړه کې) په ليدو ژړاغونی شو .صحابه ووته يې وفرمايل : که مناسب ګڼئ ،دا غاړه کې بيرته ور کړئ اوبندي وريا خوشې کړئ!

صحابه وود تردد پر ته بندي پرېښود ، او هم يې غاړه کې بيرته ور کړه ، خو رسول الله (ﷺ) له ابو العاص وعده واخسته چې ته څنګه مکي ته ورسي زينب (رضی الله عنها) به مدينې منوري ته راواستوي . کله چې ابوالعاص مکي ته لاړ زينب (رضی الله عنها) ته يې دهجرت کولو اجازه ور کړه د خپل ورور " کنانه بن ربيع " سره يې يوځای واستوله.

کنانه هغه په ټکنده غرمه کې اوښ ته پور ته کړه اوله ځان سره يې بنه ډېر غشي واخستل روان شول ، خوپه رښاورځ له مکې نه درسول الله (ﷺ) دلور روانيدل قريشو ته له زغم وتلی کار و، ابوسفيان اونورو په " ذی طوی " کې دهغې داوښ مخه ونيوه او کنانه ته يې وويل:

مونږ دمحمد (ﷺ) لور راګرځولو سره کار نلرو البته په دې رښاورځ يې رونيدل زمونږ لپاره ذلت اور سوايي ده، بنه داده چې ته اوس بيرته مکې ته ستون شه اوبيا دشپې په تياره کې له مکې ووځه!

کنانه غاړه کیښوده. لیکن ابوسفیان راتلو وړاندې لومړی هبار بن اسود (چې وروسته مسلمان شو) چې کله داوښ مخه نیوه، دهغوپټکو زینب (رضی الله عنها) دومره وډاروله. چې له بیري یې حمل ته زیان ورسید. البته کنانه هم داوښ په مخ کې غشو ویشتو ته چمتو ولاړو او هغوئ ته یې وویل: که هریوه اوښ ته د نږدې راتلو هڅه وکړه نو دهغه بدن به په غشو چور، چور کړم. لنډه داچې کنانه بیر ته مکي ته ستون شو اوبیا دوه درې ورځې وروسته دشپې په تپه تیاره کې روان شو.

هلته له وړاندې تیار رسول الله (ﷺ) "زیدبن حارثه" اوبوبل انصاري صحابي د "بطن یاجج" سیمې ته استولي وو اوهغوئ دواړو ته یې امر کړی وچې ترهغې به هلته اوسئ څو "زینب" راځي، هغه به ځان سره مدینې ته راولئ. کنانه هلته په رسیدو زینب (رضی الله عنها) یې هغوئ ته و سپارله او خپله بیر ته مکي لاړ، په دې تو ګه دجنګ بدر نه یوه میاشت وروسته حضرت زینب (رضی الله عنها) مدینې منورې ته راغله.

هغه مدینه کې درسول الله (ﷺ) سره وه او ابو العاص په مکه کې و، دمکي دفتح څخه وړاندې ابو العاص دتجارت لپاره شام ته لاړو. لکه وړاندې موور ته اشاره وکړه چې په مکه کې هغه په دیانت دار او امانت دار مشهور و له دې وجې ډېرو خلکو ور ته خپل مالونه اوپیسې په تجارت اومضاربت ور کړې وي. کله چې له شامه بیر ته ستنېده په لار کې دمسلمانانو له یوې ډلې سره مخ شو، هغوئ ورنه ټول مالونه اوتو کې واخستل، ابو العاص دشپې په پټه زینب (رضی الله عنها) ته ورغی، رسول الله (ﷺ) دسهار لمانځه ته راوت، چې زینب (رضی الله عنها) دمیر منو دلمانځه له ځای ورغږ وکړ ای خلکو واورئ! ابو العاص بن ربیع ته ما پناه ور کړې!

دلمانځه نه چې کله رسول الله (ﷺ) ه فارغ شو خلکو ته یې مخ ور تاو کړ اووې ویل: أيُّهاالناس هل سمعتم ماسمعتُ قالوانعم. قال أمَا والذی نَفسي بيده مَا علمتُ بشيء من ذلک حتّی سَمِعتُ ماسَمِعتُم انه يُجير علَی المسلمين ادناهم.

خلکو! تاسو هم هغه واوریدل چې کوم ما واوریدل؟ خلکو وویل هو! رسول الله (ﷺ) وفرمایل: سوګند په هغه ذات دچا په واک کې چې ځما ساه ده قطعاً ماته په دې باره کې علم نه و، څه وخت چې تاسي واوریدل ماهم واوریدل په تحقیق سره بنه پوښئ چې د مسلمانانو یوډېر ادنی تن هم پناه ور کولی شي!

بیادخپلې لور خواته لاړ هغې ته یې وفرمایل: اي لوري! اکرام وکړه لیکن خلوت نه ولې ته، په هغه حرامه یې! یعنې ته مسلمانه یې اوهغه مشرک کافر دی. بیا صحابه وو ته وفرمایل:

تاسو ته له ده (ابوالعاص) سره زمونږ تعلق معلوم دی، که مناسب ګڼئ مال یې بیر ته ور کړئ او کنه دالله ور کړه ده، کومه چې در کړي ده اوتاسوپې مستحق یاست!

صحابه وو هغه ته ټول مالونه ور کړل، ابو العاص مکي ته روان شو، هلته دد کومو خلکو مالونه یې چې په ذمه وو، هغوټولو ته خپل، خپل مالونه ور کړل، په پای کې په لوړ غږ اعلان وکړ:

يامعشر قريش هل بقي لأحدٍ منكم عندي مال ياخذه قالوا لا فجزاک الله خيرا فقد وجدناک وفياً كريما قال فأنا اشهد ان لا اله الا الله وان محمد عبده ورسوله والله مامَنَعَني منَ الاسلام عنده الاّ تخوف ان آكل أموالكم فلماّ أدّاها الله اليكم وفرغت منها أسلمت.

قریشو! ایا تاسو کې دچا ذما په ذمه څه پاته شته چې ما نه وي در کړي، هغوئ وویل: نه! نشته. الله دې تاته غوره بدله در کړي ته مونږ وفاکونکی او بنه انسان وموندلي. ابوالعاص وویل: نوپس زه شاهدي ور کوم چې دالله (ﷻ) پر ته بل هیڅ معبود نشته. اوبیشکه محمد (ﷺ) دالله بنده اور سول دی، ماتر اوسه یواځې له دې امله اسلام رانه وړو چې هسې نه تاسي داګومان وکړئ چې دما مال خوړو لپاره اسلام قبول کړ، هر کله چې الله (ﷻ) تاسو ته خپل مالونه ورسول اوذما ذمه فارغه شوه، پس زه دادی مسلمان شوم!

له دې وروسته ابوالعاص له مکي نه مدينې منورې ته لاړ . رسول الله (ﷺ) حضرت زينب (رضي الله عنها) ور ته بيا په نکاح ور کړه. په دې کې اختلاف دی . په ځينو روايتونو کې راغلي چې رسول الله (ﷺ) پخوانی نکاح کافي وګڼله . اوپه ځينو نورو کې بيا تصريح شوې چې رسول الله (ﷺ) ددواړو ترمنځ نوي نکاح وکړه . داحنافو فقهاوو (رحمهم الله) په نزد هم داوروستی روايت صحيح دی . ولې که پخواني نکاح صحيح وه . بيا ولې رسول الله زينب (رضي الله عنها) ته فرمايل: چې ته دهغه لپاره حلاله نه يې !

په بنديانو کې درسول الله (ﷺ) تره عباس هم و . هغه "کعب بن عمرو ابواليسر" نيولی و . عباس قوي او دغټ جسم خاوند و، ابو اليسر کمزوری او لنډ قدی و ، رسول الله (ﷺ) وفرمايل: ابواليسره! عباس تا څه ډول ونيو ؟ ابواليسر وويل:

ما سره يوه داسې سړي مرسته وکړه ، چې هغه مانه لدښنه وراندې و ليدلی اونه مې بيا وروسته وليده ، دهغه داسې هيبت .. اوصورت و ، رسول الله (ﷺ) ور ته وفرمايل : "لقد أعانک عليه ملک کريم" بېشکه تاسره عزتمنې فرښتې مرسته کړې . داروايت په مسند احمد او دابن سعد په طبقات اونورو کې راغلی دی ، خو په دلايل بيهقي اودلايل ابي نعيم کې بيا له حضرت علي (رضي الله عنه) څخه روايت دی ،علاوه پردې په نورو بېلابېلو طرقو هم روايت شوی (المصطفی سيرة ملا۴۸)

انصار راغلل رسول الله (ﷺ) ته يې وراندیز وکړ که ستا خوښه وي مونږ به دخپل خوريې فديه وښنو ، دا په دې چې دعبدالمطلب مور له انصارو څخه وه ، په خوريې ويلو کې انصارو دښته اشاره کوله چې ددې ښځې احسان به زمونږ پر غاړه وي نه ستا په غاړه ! مونږ فديه دخوريتوب په وجه ښنو نه په دې چې ستا تره دی ، چې په دې لهجه ويناداانصارود ښې په زړې سليقې اودنهايې ادب ښکاريدوي کوي .

رسول الله (ﷺ) هغوئ ته وويل:

"والله لاتذرن منه درهما" په الله سو ګندیو درهم به هم نه ښنئ ! کله چې دعباس (رضي الله عنه) څخه دفديې غوښتنه وشوه هغه دخپلې بې وسۍ عذر وراندې کړ رسول الله (ﷺ) ور ته وفرمايل:

هغه مال دې چيرې دی چې تا او "ام فضل" ګډ خښ کړ ؟

عباس وويل: بېشکه زه شهادت ورکوم چې ته يقيناً د الله (ﷻ) رسول يې له ما او ام فضل پرته ددې مال علم بل چاته نه و.

په دلايل ابي نعيم کې روايت دی چې رسول الله (ﷺ) په عباس سل اوقيې او په "عقيل بن ابي طالب "اتيا اوقيې سره زر فديه کيښودل ، په ټولو کې دعباس (رضي الله عنه) ډېره وه ، چې له امله يې عباس (رضي الله عنه) وويل: ايا له تاسره دخپلوئ درلودو په وجه ذما فديه دومره زياته ده ؟

په دې سره دا آيت نازل شو:

يا أيها النبي قل لمن في ايديکم من الاسری ان يعلم الله في قلوبکم خيرا يؤتکم خيرا مما أخذ منکم ويغفر لکم والله غفور رحيم(انفال)

اې نبي ووايه ته هغه چاته چې په لاسونو ستاسې کې دي له بنديانو . که معلوم کړي الله په زړونو ستاسې کې کوم خير (ايمان) نودربه کړي تاسې ته خير (بهتر . غوره) له هغه (مال) څخه چې اخستل شوی دی له تاسې نه او مغفرت به وکړي تاسې ته ؛ او الله بښونکی اودېر رحم والا دی.

عباس (رضي الله عنه) به ويلي کاشکې ! هغه مهال له ما څوچنده زياته فديه اخستل شوې وای (فتح الباري مخ ۲۴۸ ټوک ۷)

الله (ﷻ) ماته دهغوسلو اوقيو بدل سل غلامان راکړي . چې ټول سودا ګر دي . داوعده په دنيا کې الله (ﷻ) پوره کړه او اميد لرم چې دمغفرت وعده به هم پوره کړي . دبدر په اسيرانو کې "نوفل بن حارث هم و ." کله چې له هغه نه رسول الله (ﷺ) فديه وغوښته ، هغه يې په ځواب کې وويل: له ماسره څه نشته چې فديه درکړم!

رسول الله (ﷺ) وفرمایل: هغه نیزي دې څه کړي چې تاجده کې پریښودي اوراغلې ؟ نوفل وویلي: په خدای سو ګند دالله وروسته له ما پر ته بل هیڅوک په هغو خبر نه و، زه شهادت ور کوم ته بېشکه دالله رسول یې!

نوفل هغه ټولي زر نیزي په فدیه کې ور کړي

"عمیر بن وهب" چې داسلام په سخت سر و دښمنانو کې و، اوپه مکه کې یې رسول الله (ﷺ) سخت تکلیفونه رسولي وو دهغه ځوی "وهب بن عمیر" هم بندي و، یوه ورځ په حطیم کې "صفوان بن امیه او عمیر بن وهب" دبدري مقتولانو کېسي کولي اویلي یې: دژوند خوند نشته عمیر وویل هو! رښتیاهم دقریشو سر دارانو دقتل وروسته دژوند مزه تللې، که ځما په ذمه قرض او داولادونو دروزې فکر نه وای تلم او محمد(ﷺ) مې قتل کاوه!

صفوان ډېر خوشال شو هغه ته یې وویل: ته دقرض نه بېفکره شه هغه ځما په ذمه شو، داولادونو پوښتنه اوپالنه دي هم په ما شوه! خو ته داګام پورته کړه، صفوان توره بنه تیره کړه په زهرو یې ولړله اوعمیر ته یې په لاس کې ور کړه، عمیر نیغ مدینې ته لاړ، دمسجد نبوي دروازه کې داوښ سره ودرید

عمر (رضی الله عنه) چې عمیر ولید، پوی شو چې خاممخا په څه ناوړه اراده راغلې، دهغه توره یې ونیوه او درسول الله (ﷺ) په وړاندې یې حاضر کړ، رسول الله (ﷺ) ووېل: خوشې یې کړه بیا یې له عمیره وپوښتل: څنګه راغلې؟ عمیر وویل: خپل بندي په خلاصولو پسې، رسول الله (ﷺ) وفرمایل: رښتیا وایه ددې لپاره راغلې یې؟ رښتیا وایه تااوصفوان په حطیم کې ناست وئ هلته دواړو څه مشوره وکړه؟

عمیر ودار شو وایي: څه مشوره مو وکړه! رسول الله (ﷺ) ووېلي: تاذما دوژلو ذمه وکړه او صفوان ستا دقرض او ستا داولاددخبر اخستو ذمه! عمیر وویل:

اشهدُ أنک رسول الله انَ هذا الحدیث کان بیني وبین صفوان فی الحجر لم یطّلع علیه احد غیري وغیره فاَخبر ک بَه فآمنتُ با الله ورسوله

زه شهادت ور کوم چې بېشکه ته دالله رسول یې ددې واقعې علم له ما اوصفوان پر ته بل چاته نه و، پس الله (ﷻ) ته خبر کړې نوزه ایمان راوړم په الله اودهغه په رسول باندې

رسول الله (ﷺ) صحابه ووته وویل: خپل ورور ته دین ورزده کړئ، اوهم یې بندي خوشې کړئ، عمیر وویل دالله رسوله ما ددین رښاوژلو پسې ډیري هڅې کړي، مسلمانانو ته مې زیات تکلیفونه رسولي، اوس اجازه راکړه چې مکې ته لاړ شم اوهلته خلک دالله رسول ته راوبولم، شاید الله (ﷻ) هغوئ ته هدایت نصیب کړي، او دالله (ﷻ) ددین دښمنانو ته هم هغسې اذیتونه ور کړم کوم مې چې وراندې مسلمانانو ته ور کړي.

رسول الله (ﷺ) ور ته اجازه وکړه: عمیر دمدیني څخه روان شو، هلته په مکه کې صفوان بن امیه خلکو ته هم داوویلي: خلکو! په څو ورځو کې به داسې زیري واړئ چې دبدر غم به مو هیر شي!

له هر راتلونکي او تلونکي به یې دعمیر په اړه پوښتل، تر دې چې دعمیر له اسلام راوړو خبر شو، په دې تک سور شو اوسوګندیې وکړ چې دعمیر سره به خبري ونکړم اونه به ور ته کومه ګټه ورسوم

عمیر (رضی الله عنه) مکې ته راغی او داسلام په دعوت لګیا شو ډېر خلک یې په وجه په اسلام مشرف شول او داسلام ددښمنانانو په ستر ګو کې ازغی شو. نوریبا

د زلمۍ د چاړې خړپ!!

بټ شکن

کله مې چې پر امریکایي د چاړې خړپ تېرکړ نو ړپه ځان پوه نشوم، هلته ډلې ډلې ماشومان له دې امریکایی نه ګیرچاپیره راتاو وو، دالوړدنګ (۲۲) امریکایی یې په منځ کې توپک په لاس ولاړو، ګوتې یې تیارې په ماشه ایښې وې، زه هم ددې ماشومانو سره ودریدم، خو په دومره تفاوت چې ماخپله جاړه بډه کې منډلې وه اوو د اسې یوه فرصت په انتظار وم چې پدې اشغالګر ددې وژونکې چاړې خړپ تېرکړم، امریکایی ډیر لوړو، زه دومره لوړ اوغټ نه وم چې تر غاړې پورې یې وروړسیږم، له خدایه ج نه مې غوښتل که دا لوړ امریکایي عسکر لږ سر راکښته کړي چې خپله سینه پرې یخه کړم، دلته دغني خیلو ولسوالۍ ته امریکایی پوځي مشران راغلي وو او ددې سیمې سپین ږیرې یې داربکیانو د جوړولو لپاره د ولسوالۍ مرکزته راتول کړي وو، دا اجل نیولی امریکایي عسکرورته پهره کوله او ګرد به تر ولسوالۍ له نورو امریکایانو غوندې تاویده راتاویده، چاړه مې هم په خپلو شخصي پیسو اخستې وه کوم چاراته پیسې ندې راکړي، کورکې مې د کور مشران هم پر ځان د کوم داسې فدایی ګوزارځخه نه خبرول، چاړه مې پټه د کوټې په منځ کې په مځکه کې تر خاورولاندې ښخه کړه، بیوازې مور مې راباندې پوه شوه، هغې فکرکاوه چې ګوندې انفجاري مواد یې کورته راوړل، د امریکایانو له ویرې یې راباندې مشر وروړ خبرکړ، خو هغه هم ښه مجاهد وکومه غټه خبره یې ونه بلله اونه یې راباندې د داسې کوم غټ کار باور کاوه، لا مخکې مې خپل دې وروته ویلې و، چې یو میل کلا شینکوف راته پیدا کړه، پر اشغالګرو حمله کوم، هغه به راته ویل چې د محترم امیرالمؤمنین د فرمان له مخې کوچنیان یا بې ږیرې هلکان نشي کولی چې د امارت اسلامي لیکوکې شامل شي، خو زه خپل احساس ارام نه پریښودوم چې کور کې مستریح کښینم، د کفارو له مظالمونه به خبریدم، کله لوګرکې بې ګناه ماشومان، ښځې او سپین ږیرې په ډله ایزډول شهیدانول، کله کنړکې لسګونه ماشومان معصومانه شهیدانول کله یوه سیمه کله بله سیمه کې..... بس سینه کې به مې اور بل و، د جهاد جذبه به مې ورځ تر بلې تاندیده، زه د قرآن کریم حافظ او د ښوونځي شاګرد وم، خو نور مې ځان نشوای کنترولای، خدای ج کول چې دا ولاړ

امریکایي دځه شئ پسې زنګون کیش شو ،او ځمکې ته رانبکته شو ،نورپه ځان پوه نشوم، سمدستي مې چاړه پسې له بډې راوایستله او په غاړه مې پرې خرپ تېرکړ،دادومره لوړ اوچاغ امریکایی همدې خرپ سره پرځمکه راپریوت نوربې حرکت نشوای کولای ،کوشش مې کاوه چې چاړه تړې را وباسم، تر څوهغه بل ځنګلورې ته ولاړ امریکایی پسې ځان ورسوم ،چې هغه هم له تیغه تېرکړم، دقدرت کارته ګوره چې چاړه دامریکایی په غړی کلکه ونښته او نه راوته ،چې ګورم دوینو فوارې تړې روانې شوي او ولاړو ماشومانو منډې تړې جوړې کړې زه هم هیښ شوم ،دخلکوسره یوې خواته ووتلم ،یوه کورته ورغلم ،له بده مرغه چې هغې کورکې هم چاځای رانکړ،دکورځښتن ته مې وویل چې کوم ماشوم امریکایي په چاړه وواهه ،زه تاسو کره راغلم، دې کم همتوویل چې خپل کورته لاړ شه ! ځانته مې فکر و ! چې خپلې جامې مې هم په وینو رنګ دي او له ورایه پکې دوژل شوي امریکایي وینې ځلیږې ،سمدستي مې دسیمې مجاهدینو سره تماس ونیو ،له نیکه مرغه چې مجاهدینو ددومره دښمنانو له منځه په پوره ډاډ سره خپل مرکزته ورسولم..

ښه نو !!

دادومره لوی شهکاری خاوند اودتاریخ جوړنکی تاند زلموتی څوک دی ؟داحافظ خالد نومیږې چې دننګرهار ددې سیمې اوسیدونکی دی ،ایله دشپاړسو کالو تانده ځواني لري ، چې دخپل ایمان په اساس یې داسلام له دښمنانو څخه دخپل شهید اومظلوم ولس بدل واخیست ،عمر یې ډیر کم خوغیرت یې له ډیرو لویانونه زیات دی ،خپلې زده کړې یې نیمګړې پریښودې ،خو داسې یو تاریخي کار یې وکړ،چې راتلونکي نسلونه به پرې وویاړې اوهم یې اشغالګرپدې پوه کړل چې افغاني زلموتي هم تاسو نه بخښې او ددې جنایاتو پوښتنه به درنه وکړي !

دغني خیلو ولسوالی دجهادي چارو مسؤل ډاکتر حسن صیب راته ددې پیښې دبیانولو پر وخت ددې هلک کوچنیتوب اودعمرد کموالې اوددومره لوی تاریخی ګوزار کیسه کوله چې دده داکم عمر ددې جوګه ندی چې دومره اتلواله دې وکړي اوداسې لوړ غټ امریکایي دې له تیغه تیرکړي.....

خوکه داسلام تاریخ ته ځیر شونو داسې کار یووخت درسول الله صلی الله علیه وسلم اواسلام دستر دښمن (ابوجهل)په وړاندې دبدر په غزوه کې هم دووکوچنیانو(معاذاومعوذ)تر سره کړی و ،چې دادی همدا سنت دې حافظ خالد راژوندې کړل ،اودصدراسلام پدې شهکاری نن هم زمونږ اسلامي تاریخ ویاړي ،تیرکال هم مجاهد(جلات خان) چې دهلمند دشهید پال ولایت دسنګین ولسوالی دساروان کلا اوسیدونکی و ددې ولسوالی په بازارکې یې هغه مهال دوه اشغالګر امریکان په خپله چاړه ووهل چې پیاده په ډیر غرورلو تکبر روان وه ،چې دادی داخل داکار یوه زلموتې حافظ په ننګرهار کې تر سره کړ،پر عمر او ځوانی دې یې برکت اواتلواله دې یې تل پاتې شي !!

مورچل

دارُالاِفتاء

مفتی ابو ماریه

په استشهادي مجاهدينو دغائبانه جنازې شرعي حکم

استفتاء :

محترم مفتي صاحب

له الله مو روغ رمټ او بريالی غواړم

نبوي تحفه السلام عليکم مو قبوله کړه

محترمه !

د خپل عقل او علم په اندازه کوښښ کوو چې د خدای په لار کې منډې ترڅې ووهو او دهغه د دين په مرسته کې قرباني ورکړو ، په دې عقيده نه چې الله د خپل دين دساتلو لپاره مونږ ته اړتيا لري، يا مو شهرت او دنوي جاه او جلال مطلب دی بلکه د دې لپاره چې دا مو مسئوليت دی او که يې اداء نه کړو نو د پاک رب د غضب لايق به شو ، اوس هم د خدای په وړاندې په خپلو کړنو کې ناقص يو ، الله دې راسره د خپل بې پايانه رحمت له مخې معامله وکړي زمونږ د اعمالو له نظره نه قدرمنه !

پر هيواد د اشغال پرده خپره ده او حالات د ډير څه کولو اجازه نه ورکوي، ډول ډول خنډونه شته او رنګا رنګ مشکلات موجود دي، خو بيا هم د دې (درب) او لارې د يو وروسته پاتې پلي او کمزورې لاروي په توګه ګڼو چې حق لرو د کاروان ملګرو ته مشوره ورکړو ، مشوره ځينې وغواړو او تر خپلې وسې په سمونه کې برخه واخلو.

کومه خبره چې کول غواړم د مخکې وړلو پريکړه يې پر تاسې پريږدم خو که چېرته يې ونه کړم نو کېدلای شي کله راته ځان ملامته ښکاره شي.

موضوع پر غایب جنازه ده .

رسول الله صلي الله عليه وسلم د حبشې د بادشاه نجاشي پر وفات په مدينه منوره کې د هغه غايبانه جنازه اداء کړه، همدا رنګه په را وروسته زمانو کې وخت په وخت داسې شوي چې علماؤ په غايب جنازه اداء کړې.

همدا اوس د شيخ اسامه بن لادن رحمه الله غايبانه جنازه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې وشوې، همدا راز په يمن کې د شهيد شوي شيخ انور العولقي جنازه هم په ډيرو ځايونو کې غايبانه اداء شوه.

دا هم څرګنده ده چې پر غايب د جنازې په اړه د علماؤ تر منځ اختلاف موجود دی لکه د امام اعظم په مذهب په غايب جنازه نه کيږي، په افغانستان کې د امام ابو حنيفه پر مذهب عمل کيږي، او دا د رسول الله خاصه وه، او ځينې نور بيا دا جواز هغه د رسول او حق دين په وړاندې د بغاوت سر نيغ وړې چې ورکوي چې په يو ستر او نوموتي انسان د غايب جنازه روا ده لکهمد غه سر به يې د قيامت په ورځ د دوزخ اور ته ورګوزار کړي.

يو ستر عالم، داعي، مجاهد ، او.....لکه رسول الله چې په نجاشي جنازه کړې وه ځکه چې هغه يو ستر انسان ؤ ، د مهاجرينو مسئولينو او مشرتابه پورې ورسول شي او د عملي کولو په اکرام يې کړی ؤ ، په افريقا يې د اسلامي دعوت دنده تر سره کړې اړه يې فکر وشي خو نه پوهيږم چې وړاندیز د عملي کولو وړ وه او په رسول الله يې ايمان راوړی ؤ.

جمهور علماء يې بيا د رسول الله صلي الله د عمل تر مخې په جواز زړه پاتې او بهرته يې د عدم نړۍ ته واستوم قايل دي، او امت ته په رسول الله پسې په اقتداء امر شوی دی.

پر غايب د جنازې حکم به علماؤ ته څرګند وي چې تاسې يې په اړه تر ما زيات تحقيق کولای شئ، خو زه غواړم يوې مهمې مسئلې ته ستاسې پام را وګرځوم

استشهادي او فدايي عمليات د اسلامي امت هغه ريښتيني ځوانان کوي چې که ووايو په اوس وخت کې تر ټولو د قوي ايمان څښتنان دي نو غلطه به نه وي، همدوی دي چې د باطل او طاغوت زور يې مات کړی، همدوی دي چې زبر ځواک يې را په ګونډو کړی او د صليبي لښکر په وړاندې يې داسې سد درولې چې هغوی يې په ماتولو نه شي توانيدلای خو اوس ځينې پلورل شوي په اصطلاح عالمان او يا د غرب غلامان د دا ډول عملياتو تر سره کوونکي په ډول ډول تورونو تورنوي او دغه عمليات (ناروا) بولي.

سره له دې زمونږ د مطالعې تر مخې هغه دلايل چې پياوړو اسلامي علماؤ په خپلو کتابونو او فتواوو کې د دې ډول عملياتو د جواز لپاره ورکړي دي بسنه کوي، همدا دلايل کافي دي چې يو عاقل، بالغ، پوه مسلمان انسان په دې هکله د نور څه ويلو څخه منعه او قانع کړي، خو شيطان خپل کار جاري ساتي، په ځينو اغيزکوي او بيا د دا ډول قوي او مضبوطو دلايلو په وړاندې هم سر نه ښکته کوي بلکه د الله، د رسول الله او د ټولو مسلمانانو په سترګو کې د ځان د ويجاړولو لپاره ورځ تر بلې زيات ګامونه اخلي.

زه يو وړاندیز لرم که ممکنه وي نو دغه وړاندیز تر لوړ رتبه همدغه بې ضميره (علماء) د استشهادي او فدايي عملياتو د تر سره کوونکو په حق کې وايي چې هغوی د جنازې لمانځه څخه محرومیږي، د جنازې لمونځ په دغو خلکو نه اداء کيږي نو دوی بايد دا ډول بريدونه تر سره نه کړي.

زما وړاندیزدا دی چې په افغانستان کې دې د هر استشهادي او فدايي برید کوونکي غايبانه جنازه اداء شي، که هغه په هر ځای کې او د هر څو تنو په ګډون سره وي او دهغه ملګري تر ټولو ښه پوهيږي چې کله يې اداء کړي.

مونږ په جهادي ويډيو ګانو کې وينو چې يو ځوان په خورا ميړانه برید تر سره کوي، که ممکنه وي چې د همدې ډول ويډيو په خپرولو سره دهمدې فدايي د جنازې غايبانه جنازه هم په همدې ويډيو او سي ډي کې نشر شي نو فکر کوم چې د دې ريښتيني مسلمانانو او اتلانو يو بل حق به مو هم ور اداء کړی وي ځکه چې جنازه په ژوندي د مړي حق دی او هم به د ځينيو جهالو خوله په يو ډول وربنده شوي وي.

زمونږ د کلي يو تن فدايي برید تر سره کړ، کورنی ته يې خلک دعا ته ورتلل خو جنازه نه وه اداء شوی، په کلي کور کې خو به ستونزه وي خو که چېرته د مشر تابه له خوا د جهاد صفونو ته د دا ډول جنازو احکام صادر شي نو لا به ښه وي. او که چيرته همدا اوس هم د دې فدايي ځوانانو جنازې اداء کيږي خو ماته يې معلومات نه وي او يا نور موانع او دلايل موجود وي چې بايد اداء نه شي نو د معلوماتو لپاره مې وپوهوئ.

په درنښت

ورور مو: محمد ادريس

الجواب حامدا ومصليا وبعد: لمړی بايد داووايو چې دجنازي لمونځ په حقيقت کې دعاده يعني ژوندي خلک له الله تعالی څخه دمرده په حق کې دهغه دتقصيراتو بخښنه غواړی ، نودغه لمونځ حقيقي لمونځ نه ده ، لمونځ ورته دصلوة دلغوي معنی [دعا] په لحاظ ويل شوی دی.

اوبيا په دي خبره کې دامت دسترو علماء اومجتهدينو اختلاف دی چې شهيد دجنازي لمانځه ته اړتيا لري اوکنه ، امام شافعي رح اوځيني نور علماء وايې چې شهيد دجنازي لمانځه ته چې دعا ده اړتيا نه لري دوئ دځيني نقلي دلائلو سره داهم وايې چې دعا ديوه داسي چاپه حق کې کيږي چې تقصيرات ځيني شوي وي له شهيد څخه که تقصيرات شوي هم وي نو الله تعالی يې دويني ديوه څاڅکي توئيدو سره معاف کوي ، لهذا شهيد ته دجنازي دلمانځه اړتيا نشته .

مګر جمهور علماء وايې چې شهيد لره دجنازي لمونځ شته: اولمونځ ضروري نه ده چې دګناه دعفوي لپاره به وي بلکه دهغوئ دعلو درجاتو لپاره هم کيدلی شي .ياهم دلمونځ کونکو اجر په کې زيات وي.

اوس راځو اصلي مسئلي ته :

دجنازي لمونځ که څه هم په حقيقت کې دعا ده مګر داپه شريعت کې يو فرض کفايه عبادت دی ، اوهرعبادت ځانته څه شرائط لري اودشرائطو په عدم وجود کې مشروعيت نه لری ،له همدغه شرطونو څخه يو شرط دامام ابوحنيفه اوامام مالک رحمهم الله اوددوئ دمذهب متبعين و په نزد دجنازي دلمانځه لپاره دميت دنعش حضور اووجود ده . اوکه دميت حضور نه وي نومشروط هم منتفي دی.

اوپاته شوه داخبره چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په نجاشی بادشاه باندي دهغه دنعش په غياب کې دجنازي لمونځ اداکړی ، نوله دي روايت څخه دصلوة الجنازة علی الغائب مشروعيت نه جوتيږي ځکه جمهور علماء ددي رواية په اړه ډير مباحث لري

چې ځيني يې په لاندي ډول دي :

۱ -: لمړی داچې دنجاشي بادشاه جنازه دپيغمبرصلی الله عليه وسلم مخ ته معجزة راڅرګنده شوه

لکه دعمران بن حصين اوځينو نورو صحابه ؤ رضی الله تعالی عنهم له روايتونو څخه چې څرګنديږي .ومن هذه الاحاديث :

عن عمران بن حصين رضی الله تعالی عنه ان النبي صلی الله عليه وسلم قال ان اخاكم النجاشي توفي فقوموا صلوا عليه

فقام رسول الله صلى الله عليه وسلم وصفوا خلفه فكبر اربعا وهم لايظنون الا ان جنازته بين يديه . رواه ابن حبان وغيره اوپه فتح الباري كې په دې ځای کې داتوري هم وراضافه دي و أخرجه من طريق الأوزاعي عن يحيى بن أبي كثير عن أبي قلابة عن أبي المهلب عنه ، ولأبي عوانة من طريق أبان وغيره عن يحيى " فصلينا خلفه ونحن لا نرى إلا أن الجنازة قدامنا " وفي عون المعبود ١٩٠\٧ عن ابن عباس قال "كشف للنبي صلى الله عليه وسلم عن سرير النجاشي حتى رآه وصلى عليه

اوپه يوه بل روايت كې دمعاويه بن معاويه المزني په هكله راغلي دي :

عن انس رضى الله تعالى عنه قال نزل جبرئيل على النبى صلى الله عليه وسلم فقال يامحمد مات معاوية بن معاوية المزني اتحب ان تصلي عليه قال نعم فضرب بجناحيه فلم يبق اكمة ولاشجرة الاتضعضعت فرفعت سريره حتى نظر اليه فصلى عليه وخلفه صفان من الملائكة كل صف سبعون الف ملك فقال ياجبرئيل بم نال معاوية الى آخره

٢= په نجاشي بادشاه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم غائبانه جنازه دهغه خصوصيت ؤ له هغه پرته پيغمبر صلى الله عليه وسلم په هيڅ صحابي باندي د جنازي لمونځ په غائبانه ډول نه دی کړی .سره له دي چې په پيغمبر صلى الله عليه وسلم ډيرګران اوسترصحابه په ليري وطنو کې شهيدان شوي ؤ.

وفي فتح القدير ٣٢٨\٢ ثم دليل الخصوصية أنه لم يصل على غائب إلا على هؤلاء ومن سوى النجاشي صرح فيه بأنه رفع له وكان بمرأى منه مع أنه قد توفي خلق منهم رضي الله عنهم غيبا في الأسفار كأرض الحبشة والغزوات ومن أعز الناس عليه كان القراء ، ولم يؤثر قط عنه بأنه صلى عليهم وكان على الصلاة على كل من توفي من أصحابه حريصا حتى قال { لا يموتن أحد منكم إلا آذنتموني به ، فإن صلاتي عليه رحمة له} على ما سنذكر.

ومثله في البحر ٣٠٥\٣.

ومجمع الانهر ١٠٩\٢

ورد المحتار ١\٣

وفي تبيين الحقائق١٨١\٢ ويشترط أيضا وضعه أمام المصلي فلهذا القيد لا تجوز الصلاة على غائب ، ولا حاضر محمول على دابة وغيرها ، ولا موضوع يتقدم على المصلي

اهـ.

